د پناه غوښتنه کې مرسته
په سویس کې
www.flüchtlingshilfe.ch

# څنګه کولی شئ د مهاجرت دولتي اداري د پرېکړې په اړه شکایت وکړئ؟

**آيا د مهاجرت دولتي اداري (SEM) لخوا مو د رد کېدو پرېکړه ترلاسه کړې ده؟**

که د مشورې ترلاسه کولو یا د شکایت لیکلو ته لیواله یې، سمدلاسه خپله سیمه کې د وکیلانو یا د حقوقي مشورې مرکز سره اړیکه ونیسئ. که نشئ کولی حقوقي مشوره چمتو کړئ او سملاسي اقدام ته اړتیا لرئ، دا لارښود تاسي سره مرسته کوي. دا لارښود په سویس کې د پناه غوښتنې اړوند مرستې پورې SFH (www.fluechtlingshilfe.ch)، تړاو لري چې یو غیردولتي سازمان دی او د پناه غوښتونکو او پناه لرونکو د حقونو څخه دفاع کوي.
لارښود په دقت سره ولولئ او لارښوونې تعقیب کړئ.

## 1. په څه شي باید پوهه شئ

➔ ***تاسي فقط یوځل شکایت کولی شئ***

د هغې مسؤلیت د فدرال اداري محکمه لري. د پناه پروسه کې ترټولو لویه محکمه ده او نهایي پرېکړه کوي. پته يې دا ده:

د فدرال اداري محکمه پوستي صندوق، -CH
9023 St. Gallen
تلېفون 26 26 705 58(0) 41+ ، فکس 80 29 705 58(0) 41+

➔ ***وروستۍ نېټه له لاسه مه ورکوئ***

مهرباني وکړئ **مهلتونو یا اخرنیو نیټو ته** د **"د حقوقي حل لارو کړنلاره" سرلیک لاندې د پرېکړې په پای کې توجه وکړئ!** دا تاسي ته ښئ چې تاسي د شکایت لپاره څومره وخت لرئ. بېلابېل پرېکړې شتون لري چې دوه موارد يې دا دي:

1. ستاسي د پناه غوښتنه **رد سوه.** تاسي باید شکایت نهایت **7 یا 30 ورځې** د پرېکړې ترلاسه کولو څخه وروسته ولېږئ.
2. ستاسي غوښتنه **نه ارزول کېږي،** دا پدې معني دی چې ستاسي غوښتنه بې بنسټه یا د توهین په توګه درجه بندي شوې ده. شکایت باید په **پنځه کاري ورځو کې** ولېږئ. شنبه، یکشنبه او د رخصتې ورځې نه حسابېږي. **توجه: یوه اروپایي هېواد ته د ستنېدو پرمهال استثنا: شکایت تعلیقي اغېزه نلري!**

دا چې وخت له لاسه ورنکړئ، غوره ده چې لومړی شکایت د فکس له لارې ولېږئ او بیا ورپسې اصل يې د پوست له لارې ولېږئ.

## 2. د فایلونو غوښتنه وکړئ

که ټول هغه اسناد لرئ چې د اداري پرېکړه يې پربنسټ وي، د شکایت ثابتول ستاسي لپاره اسانه کېږي. که مخکې مو په اتومات ډول نه وي ترلاسه کړي، نو هرڅومره ژر چې کولی شئ د مهاجرت دولتي اداري څخه خپل د پناه غوښتنې اړوند اسنادو او دوسیې غوښتنه وکړئ.

**د دوسیې ته لاسرسي غوښتنې لپاره د A**

بېلګې څخه ګټه پورته کړئ. مستقیم په قالب کې چیرې چې دا نښې وینئ ولیکئ . ✍

**← بېلګه ټکي په ټکي ډکه کړئ:**

**1** شخصي معلومات او د اوسېدو د اوسني ځای پته (تخلص، نوم، د ټولو هغه افرادو د زېږون نېټه چې د SEM د پرېکړې اغېزې لاندې راغلي، واټ، پوستي کوډ/د اوسېدو ځای)

**2** ځای، نېټه

**3** د N شمېره (د SEM پرېکړې پورته کيڼ اړخ کې يو شپږ رقمي عدد دی)

**4** د SEM د پرېکړې نېټه (د SEM د پرېکړې پورته کيڼ اړخ کې دی)

**5** دوسيو ته د لاسرسي غوښتنه لاسليک کړئ.

**6** فورمه د ثبت شوي پوست له لارې د مهاجرت دولتي اداري ته ولېږئ، Quellenweg 6, 3003 Bern-Wabern.

ځو ورځې وروسته د ارزوني د پروتوکولونو کاپي او د اړتيا په صورت کې نور اسناد ترلاسه کوئ. عموماً اړتيا نشته د دې کار لپاره لګښت تاديه کړئ.

## 3. شکايت چمتو کړئ

**← آيا ټولنيزې مرستې ترلاسه کوئ؟**

بيا **د تاييد لپاره د ټولنيزې هوساينې اداري ځخه غوښتنه وکړئ.** تاسې بايد دا تاييد د شکايت سره ضميمه کړئ. مهرباني وکړئ د ټاکلي مهلت ځخه وروسته د تاييد ترلاسه کولو په صورت کې يې ژر تر ژر ولېږئ.

**← د SEM پرېکړه وژباړئ.**

د SEM دلايلو ته توجه وکړئ کوم چې ستاسې د پناه غوښتنې د رد کېدو سبب شوي دي. تاسې بايد پدې تړاو په شکايت کې يادونه وکړئ.

**← شواهد ترلاسه کړئ.**

د شکايت سره يوځای، بايد **ټول شواهد چې ستاسې دوسيه کې ګټور وي** او تړاوسه مو د سويس ادارو ته ورکړي نه وي، ولېږئ (لکه د ډاکټر تصديقونه، د نيول کېدو حکم، قضاوت وغيره). ټول اسناد په وخت چمتو کړئ.

## 4. شکايت وليکئ

کولی شئ شکايت په **آلماني، فرانسوي** يا **ايټاليوي ژبه کې** ولېږئ. آيا کوم ځوک پېژنئ چې تاسې سره يې ليکلو کې مرسته وکړي؟ تاسي همدارنګه کولی شئ د شکايت دې بېلګې **B** ځخه ګټه پورته کړئ. ترټولو مهم موارد واردمخه چاپ شوي دي. **تاسې بايد فورمه د خپل شخصي وضعيت مطابق ډکه او بشپړه کړئ.** په مستقيم ډول قالب کې چې دا نښه وينئ وي ليکئ . ✍ که ځای بسنه نه کوي د نورو اضافي پاڼو ځخه ګټه واخلئ.

**← د شکايت بېلګه ډکه کړئ B ټکي په ټکي:**

**7** ځای، نېټه

**8** شخصي معلومات او د اوسېدو ځای پته (تخلص، نوم، د زېږون نېټه، واټ، پوستي کوډ/د اوسېدو ځای). د SEM پرېکړه کې ذکر شوي ټول افراد وليکئ

**9** د SEM د پرېکړې نېټه (د SEM د پرېکړې پورته کيڼ اړخ کې دی)

**10** د N شمېره (د SEM پرېکړې پورته کيڼ اړخ کې يو شپږ رقمي عدد دی)

**11** دا **د شکایت ترټولو مهمه برخه ده.** مهرباني وکړئ په تفصیل سره یې واضح کړئ چې ولې د SEM پرېکړې سره موافق نه یې او ولې غواړئ په سویس کې پاتې شئ. که کافي ځای موجود نه وي، نورې پاڼې وراضافه کړئ. توجه وکړئ:

- د SEM ټولو دلایلو سره مقابله وکړئ.
- آیا د SEM پرېکړه انګېرې چې نشي کولی ستاسې تفصیلاتو باندې باور وکړي؟ نو ټول مخالف دلایل ولیکئ او هڅه وکړئ هرډول تناقض یا ناسم پوهاوی واضح کړئ.
- که چیرې اوس خپل هېواد ته بېرته ستنېدو ته مجبور کړی شئ نو تاسو سره به څه پېښ شي؟ په دقیق ډول وضاحت ورکړئ چې څوک، کله، ولې او څنګه تاسې ځوروي او تعقیبوي.
- ښه به وي که تاسې وکړی شئ خپله ځورونه ثابت کړئ. هر سند چې مخکې مو نه وي ورکړی (لکه د نیول کېدو حکم، د محکمې حکمونه، د ډاکټر راپور، د ورځپاڼې مقالې وغیره) ذکر کړئ او اهمیت یې واضح کړئ.

**علاوه لدې، د یوازې 5 کاري ورځو مهلت لرونکي شکایتونو لپاره:**

- که چیرې مو هیڅ سفري یا هویتي اسناد نه وي ورکړي نو په دقیق ډول یې دلیل واضح کړئ.
- که اداري باید ستاسې په اړه نور مشخص تفصیلات وړاندې کړي، هغه ذکر کړئ (د مثال په توګه: د یوې ځانګړې پېښې په اړه، ستاسې ښار کې د سیاسي وضعیت په اړه).
- په هغه صورت کې چې SEM غواړی تاسې دربېم هېواد ته بېرته ولېږي په کوم کې چې تاسې مخکې وئ، وضاحت ورکړئ چې ولې باید داسې وشني (د مثال په توګه: تاسې وېره لرئ چې د دربېم هېواد څخه به مستقیم خپل اصلي هېواد ته و ایستل شئ. تاسې په سویس کې خپلوان یا نږدې پاملرنه کونکي لرئ).

**یوه اروپایی هېواد، ناروی یا آیسلېنډ ته بېرته ستنېدل؛ توجه: شکایت هېڅ تعلیقي اغېزه نلري:**

دا پدې معني دی چې تاسې د شکایت کولو سربېره هم د هېواد څخه ایستل کېږئ. دا عموماً په هغه صورت کې ترسره کېږي چې کوم یو اروپایی هېواد چې تاسې پکې مخکې وئ، موافقت کړی وي چې تاسې بېرته ستون کړی شئ. غوښتنه وکړئ چې د شکایت "د تعلیق اغېزه" بېرته پرځای شي. وضاحت ورکړئ چې ولې وېره لرئ دا اروپایی هېواد ستاسې د ځورونې او تعقیب ارزونه ترسره کړي یا دا چې ولې ستاسې خپل هېواد کې د غیرانساني یا توهیني چلند د خطر سره مخ یې.

د سویس [د پناه غوښتنې قانون](#) پربنسټ *پناه غوښتونکي کولی شي* پناه ترلاسه کړي:

[د پناه غوښتنې قانون 3 ماده](#)

*"پناه غوښتونکي هغه افراد دي چې د نژاد، مذهب، ملیت، په یوه ځانګړې ډله کې د غړیتوب یا د سیاسي باورونو له امله، په خپل هېواد کې یا په هغه هېواد کې چې وروستی ځل یې پکې ژوند کړی دی، په جدي توګه د ګواښ خطر سره مخ وي، او د دا ډول زیانونو خطر سره مخ کېدو په تړاو اساسي وېره موجود وي.*

*په جدي زیانونو کې د جسم، ژوند، یا آزادی خطر سره مخ کېدل شامل دي او همدارنګه هغه کړنې چې د نه زغمل کېدونکي رواني فشار لامل کېږي. د تېښتې لپاره د ښځو ځانګړي دلایل باید په پام کې ونیول شي."*

**12** که د پناه غوښتونکي په حیث په رسمیت ونه پېژندل شوئ، که ستاسې ایستل کېدل ممکن نه وي، **کولی شئ په لنډمهاله توګه (د F جواز) په سویس کې ومنل شئ.** که ستاسې خپل هېواد ته ستاسې بېرته ستنول انساني نه وي، نو ایستل ممکن ندي. د مثال په توګه، که د مخکې ذکر شوي مواردو پرته دلایلو له مخې، په **خپل هېواد کې**
**د خطر سره مخ یې.**

**دلته هر بل دلیل چې ستاسې خپل هېواد ته د بېرته ستنولو مخالف وي، د مخکې ذکر شوي دلایلو سربېره، واضح کړئ.**

**څو مثالونه:**

- د **روغتیایی دلایلو** له مخې د ایستلو اجرا غیرمنطقي ده، که چیرې د یوې جدي ناروغۍ درملنه یوازې په سویس کې ترسره کېږي. واضح کړئ چې ایستل ستاسې لپاره څه پایلې لري او د ډاکټر یو اوسنی تصدیق ضمیمه کړئ. د فدرال اداري محکمې څخه غوښتنه وکړئ چې د متخصص نظر ترلاسه کړي.

- په لومړني هېواد کې د کورني جنګ وضعیت **یا عمومي تاوتریخوالی شتون لري.**
واضح کړئ چې بېرته ستنېدل ستاسې لپاره څه پایلې لري.
- اکثر SEM استدلال کوي چې تاسې کولی شئ **خپل هېواد کې دننه محافظت شئ** ، دا پدې معنی دی چې تاسې کولی شئ د خپل هېواد یوه بل ځای کې مېشت شئ چې کواښ پکې موجود نه وي. مګر شاید داسې ځای ته تګ ستاسې لپاره غیرمنطقي وي؟ نو لاندې دلایل کولی شي رول ولري:
- تاسې نشئ کولی پدې ځای کې د *اقتصادي* دلایلو له امله ژوند وکړئ (د مثال په توګه د زده کړو، ژبې یا د ځایی موقعیت له امله نشئ کولی دنده پیدا کړئ)
- تاسې *هېڅ ډول لاسرسی* پناه ځای ته نلرئ (د مثال په توګه، تاسې هېڅکله هلته ژوند ندی کړی یا مو هلته د لنډمهال لپاره ژوند کړی دی، د هغه ځای په ژبه خبرې نه کوئ، هلته هېڅ قومییز یا اشنا افراد نلرئ وغیره)
- هلته نشئ کولی د عمر، جنسیت له امله میشت شئ یا لدې امله چې
اسې ډېره لویه کورنۍ لرئ.

**13** په اخرنی پاڼه کې، هر سند چې لېږئ ضمیمه یې کړئ. د اسنادو اصل ولېږئ. کاپي یې د ځان سره وساتئ. تاسې باید د پناه غوښتنې د پرېکړې یوه کاپي ضمیمه کړئ. د هوساینې د مرستو ترلاسه کولو په صورت کې، د خپلې هوساینې اداري تایید هم ضمیمه کړئ.
، **ټول شکایت بېرته کاپي کړئ.**

**14** ټولې درې واړه نسخې لاسلیک کړئ. **د شکایت دوه نسخې** د ټولو اسنادو سره یوځای (د SEM د پرېکړې کاپي، د ټولنېزې هوساینې اداري تایید او ستاسې نورو اسناو کاپي) د ثبت شوي پوست له لارې د فدرال اداري محکمې، پوست خونې ته، 9023 St. Gallen ولېږئ. **نیټو او مهلتونو ته توجه وکړئ!**

## .5 بیا څه پېښېږي؟

تاسې د فدرال اداري محکمې څخه لیک ترلاسه کوئ. مینځپانګه یې وژباړئ او د اړتیا په صورت کې یې ځواب ورکړئ. بیلابیل احتمالات شتون لري. یوازې ترټولو مهم یې لاندې ذکر شوي دي:

- تاسې **د تایید رسید** د فدرال اداري محکمې لخوا ترلاسه کوئ. د حکم د صدور پورې کولی شئ په قانوني توګه په سویس کې پاتې شئ. سره لدې، دا امکان شتون لري چې حکم په څو ورځو کې صادر شي.
- د فدرال اداري محکمه پرېکړه کوي چې آیا شکایت **"له پیل څخه غیرمعقول"** دی یا ندی. پدې حالت کې **دمخه تادیه** ته اړتیا ده او تاسې ته د تادیه لپاره وخت ټاکل کېږي. د تادیه نه کولو په صورت کې ستاسې شکایت نه ارزول کېږي. د تادیه په صورت کې، ستاسې شکایت ارزول کېږي، مګر د بریالیتوب احتمال یې ډېر کم وي.
- د فدرال اداري محکمه تاسې ته د شکایت د غلطیو اصلاح کولو لپاره لنډ مهلت درکوي. ځواب ورکول لازمي وي غیرلدې ستاسې شکایت نه ارزول کېږي.
- د فدرال اداري محکمه تاسې ته فرصت درکوي چې د SEM د نوي بیانیې په اړه خپل نظر بیان کړئ. هڅه وکړئ غبرګون ونه ښیوئ.

**د فدرال اداري محکمې نظر** مختلف کېدی شي. که منفي وي، باید د سویس څخه ووځئ. د فدرال اداري محکمه کولی شي ټوله موضوع د وضاحت لپاره SEM ته بېرته ولېږي. نظر کولی شي مثبت وي او تاسې په سویس کې پناه ترلاسه کړئ یا د لنډمهال لپاره ومنل شئ.
د شکایت په اړه د فدرال اداري محکمې پرېکړه عموماً نهایي وي، او د فدرال محکمې ته د رجوع امکان شتون نلري. یوازې په ډېرو ځانګړو مواردو کې د نظر تجدید یا هم د نظر د تجدید غوښتنه شوني وي. د حقوقي مشورې مرکز څخه پوښتنې او ګروپګنې وکړئ (https://www.fluechtlingshilfe.ch/hilfe-fuer-asylsuchende/rechtsschutz#c505).